UNAMA
دیوناما مطبوعاتي اعلامیه

UNITED NATIONS
ASSISTANCE MISSION IN
AFGHANISTAN

یوناما په هرات کي د سولې لپاره د ښځو کنفرانس تسهیل کړ

هرات، د ۲۰۱۷ کال د اپریل ۶ مه – په هرات ولایت کي د ننني جوړ شوي کنفرانس پام د سولې په بهیر کي د ښځو په ونډې ورټول وو، چې شاوخوا ۵۰ ښځو د یاد ولایت له ۱۳ ولسوالیو څخه په کي برخه اخیستې وه.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) له لوري تسهیل کړل شوي دغه کنفرانس ته د افغانستان د ښځو چارو وزیري دلبر نظري او د کار او ټولنیزو چارو مرستیالي وزیري جمیلې افغاني په سوله کي د سیمه ییزو ښځو د هڅو په ملاتړ ویناوي وکړي.

غونډې ته په خبرو کي د یوناما سرپرستي، پرنیلا دالا کاردیل وویل: د افغانستان د سولې او ثبات لار د هري برخي څخه د خلکو، ټولنیزو ډلو او قومي ټولنو ښکیلتیا ته اړتیا لري. دا په کور، ټولنه، ښوونځیو، جوماتونو او کارځایونو کي د ښځو او نجونو د ونډې پراخیدل غواړي.

د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۱۳۲۵ ګڼې پریکړه لیک له مخې د افغانستان د مکلفیت او په دې تړاو د ملي عمل پلان د ژمنو په رڼا کي، د کنفرانس په ترڅ کي د کاري ډلو ګډونوالو د سولې په بهیر کي د ښځو د ښکیلتیا ډیریدو لارې چارې رابرسیره او په ګوته کړې.

د کنفرانس په پای کي، ګډونوالو د یوې اعلامیې په خپرولو په افغانستان کي د سولې جوړونې لپاره د ښځو په مرکزي رول ټینګار وکړ او د سولې په بهیر کي یې د ښځو د غږ زیاتیدو ټینګه ژمنه په ډاګه کړه.

* * *

په افغانستان کي د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) ماموریت، د افغان حکومت او افغانانو ملاتړ دی او د یوه سیاسي ماموریت په توګه د نورو مهمو خدمتونو ترڅنګ د ښه نیت چاري وراندي کوي. "د ښه نیت چاري" هغه دیپلماتیک ګامونه دي، چې ملګري ملتونه یې په عام او شخصي ډول دخپل استقلالیت، بې پري توب او امانت داري د ترسیمولو لپاره پورته کوي، چې د نړیوالو شخړو د پراختیا، خپریدا اوزیاتیدا مخه ونیسي. یوناما د سولې او پخلاینې له بهیرونو سره مرسته کوي؛ په وسله والو شخړو کي د ولسي وګړو د خوندیتوب په ګډون د بشري حقونو ځارنه او ملاتړ کوي؛ ښې حکومتوالی ته وده ورکوي او سیمه ییزه همکاري راجلبوي. یوناما همدارنګه د همغږي پرمختیا ملاتړ کوي، چې د نړیوالې ټولنې لخوا یې ملاتړ کیږي.